په اروپا کې د افغاني کلتوري ټولنو ګډه جرګه

هیورت،جرمني 10/01/2012

# په جرمني کې د جنګسالارانو د غونډې په هکله په اروپا کې د افغاني کلتوري ټولنو د ګډې جرګې پرېکړه لیک

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې په کوربه توب د جرمني د هیورت په ښار کې، د جرمني د برلین په ښار کې د افغان جنګسالارانو د جوړېدونکې غونډې په غبرګون کې یوه بېړنۍ غونډه جوړه شوه. په دغه غونډه کې په اروپا کې د بېلا بېلا افغاني کلتوري، مدني ټولنو استازو تر څنګ د بشځو د حقوقو د دفاع د بېلا بیلو بنسټونو استازو او په سلګونو نورو بهرمیشتو افغانانو برخه اخیستې وه.

د غونډې برخه والو په برلین کې د اسپنASPEN انستیتوت کې د روان کال د جنوري میاشتې د نهمې نېټې جوړېدونکې غونډه، چې د امریکا د کانګرس د غړو په ګډون او د جرمني د یو شمېر چارواکو په کوربه توب جوړېږي، په اړه بحث وشو.

د خبري رسنیو د رپوټونو له مخې، د برلین دغه غونډه په ظاهره د ((افغانستان2014 ، فرصتونه او ستونزې)) تر سرلیک جوړېږي؛ خو په اصل کې د دې غونډه په اجندا کې په افغانستان کې د فدرالي سیستم د رامنځته کولو طرحې او پلي کولو ته ځای ورکړل شوی دی. بله د پاملرنې وړ او هېښونکې خبره دا ده، چې په دغه غونډه کې د افغانستان د ځینو قومونو په استازیتوب نامتو جنګي مجرمین لکه : د وحدت ګوند مشر محمد محقق، د جنبش ډلې مشر جنرال عبدالرشید دوستم، د اسلامي وحدت ګوند مشر کریم خلیلي او د پخوانۍ شمال ټلوالي ځینې مشران لکه احمدضیا مسعود، عبدالله عبدالله، یونس قانوني، امرالله صالح، فیض الله ذکي، عطا محمدنور،ډاکتر حسین یاسا او نور، رابلل شوي دي.

په اروپا کې د افغان کلتوري ټولنو لخوا په برلین کې د جوړېدونکې غونډې اړوند، د حاضرینو د نظریاتو په پام کې نیولو او تر خبرو اترو وروسته، په ګډه لاندې پرېکړه لیک تصویب کړ:

۱- موږ په داسې حال کې، چې دافغانستان په هکله د نړیوالو او په ځانګړې ډول د جرمني هېواد د هغې سیاسي هلو ځلو او غونډو هرکلی کوو، چې د یوه واحد افغانستان د ثبات، سوکالۍ او پرمختګ په موخه جوړېږي، خو هېچا ته دا حق نه ورکوو، چې د خپلو ځانګړو سیاسي او اقتصادي موخو لپاره د افغانستان د جنګي ډلو، مجرمینو او خاصو قومي اقلیتونه سره د افغانستان د حساسو ملي مسایلو په باب غونډې وکړي، طرحې وړاندې او پرېکړې وکړي.
۲- موږ د اکثریت نورو افغانانو په څېر باور لرو، چې د افغانستان د اوسنیو شرایطو او موجود واقعیتونو ته په کتو سره، په افغانستان کې فدرالي سیستم د افغانستان د تجزیې او د سیمې د لا بې ثباتۍ لپاره پیلامه ده او یوازې یو پیاوړی مرکزي حکومت د یوه موتي باثباته افغانستان ضامن کېدی شي.
۳- موږ د ټولو نړیوالو او په ځانګړې ډول د جرمني له دولت څخه په کلکه غوښتنه کوو، چې نور په افغانستان کې د دغو جنګي مجرمینو، چې د زرګونو بیګناه انسانانو قاتلین دي، له ملاتړ څخه لاس واخلي او خپلې ټولې هلې ځلې د افغانستان د ټولو قومونو د رښتینو استازو سره همغږې او شریکې کړي، تر څو په افغانستان کې دايیمي ثبات رامنځته شي. زموږ او د افغانستان د اکثریتو خلکو تمه دا ده، چې له دغو جنګسالارانو سره د مشورتې او نورو غونډو د جوړولو پړه وشي او د دې پر ځای دې د عدالت د پلي کولو لپاره دې، نوموړي جنګسالاران نړیوالې محکمې ته وروپېژندل شي.
۴- موږ له نورو هېوادپالو افغانانو څخه هیله لرو، چې د افغان دښمنه ډلو د فعالیتو او طرحو پر وړاندې ودرېږي او د نړۍ په هر ګوټ کې خپل غږ د لاریونونو، احتجاجیه غونډو او ډله ییزو رسنیو لخوا اوچت کړي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

# Resolution des Dachverbands afghanischer Kulturvereine in Europa bezüglich eines Treffens von Warlords in Deutschland

Datum: 10.01.2012
Hürth, Deutschland

Als Reaktion auf ein geplantes Treffen afghanischer Warlords in Berlin, lud der Verein zur Förderung der afghanischen Kultur e.V. zu einer Eilversammlung in Hürth ein. An dieser Versammlung beteiligten sich neben zahlreichen afghanischen Kulturvereinen auch Vertreter der afghanischen Zivilgesellschaft, von Stiftungen zur Verteidigung der Frauenrechte in Afghanistan und mehrere hundert weitere Afghanen, die .außerhalb ihrer Heimat leben
In dieser Versammlung wurde über das Treffen diskutiert, das am 09.01.2012 in Berlin seitens des ASPEN-Instituts geplant ist und zu den mit der Beteiligung amerikanischer Kongressabgeordneter, auch deutsche .Politiker geladen haben.
Pressemeldungen zufolge lautet der offizielle Titel dieses Treffens “Afghanistan 2014, Möglichkeiten und Probleme”, doch in Wirklichkeit ist die Agenda, dass für Afghanistan das Modell eines föderalen Systems entwickelt und seine Umsetzung geplant wird. Eine weitere erstaunliche Tatsache ist, dass als sogenannte Vertreter der verschiedenen ethnischen Gruppierungen in Afghanistan, bekannte Kriegsverbrecher wie Mohaqeq (der Anführer der Hezb-e Wahdat-Partei), General Abdulraschid Dostum (der Anführer der Dschonbesch-Gruppe), Karim Khalili (der Anführer der Wahdat-e Islami-Partei) und einige Anführer der früheren Nordallianz wie Ahmad Zia Massoud, Abdullah Abdullah, Yonus Qanuni, Amrullah Saleh, .Faizullah Zaki, Ata Mohammad Noor, Dr. Hussein Yassa und weitere eingeladen worden sind
Unter Berücksichtigung der Ansichten jener Afghanen, die zu der in Hürth einberufenen Eilversammlung gekommen waren und nach intensiver Diskussion, haben die afghanischen Kulturvereine in Europa :folgende Resolution verabschiedet

Während wir die Bemühungen der internationalen Gemeinschaft bezüglich Afghanistan begrüßen und insbesondere die politischen Bemühungen Deutschlands willkommen heißen, ein geeintes, stabiles und prosperierendes Afghanistan zu schaffen, erlauben wir niemandem, für seine eigenen politischen und wirtschaftlichen Absichten, über sensible nationale Angelegenheiten, Treffen mit den afghanischen Kriegsparteien, Verbrechern und Vertretern von ethnischen Minderheiten abzuhalten, Szenarien zu .entwickeln und Entscheidungen zu treffen
Wir glauben wie die Mehrheit der Afghanen auch, dass unter Betrachtnahme der heutigen Realität in Afghanistan, die Umsetzung eines föderalen Systems im Land, den Beginn der Teilung Afghanistans und weiterer Instabilität in der Region bedeuten würde. Nur eine starke zentrale Regierung kann ein vereintes .und stabiles Afghanistan garantieren
Wir fordern die internationale Gemeinschaft und insbesondere die deutsche Regierung auf, die Unterstützung für diese Art von Kriegsverbrechern, die für die Ermordung von tausenden von unschuldigen Menschen verantwortlich sind, aufzugeben und ihre Anstrengungen auf die echten Vertreter aller Stämme in Afghanistan zu konzentrieren und abzustimmen, damit eine dauerhafte Stabilität in Afghanistan .geschaffen wird
Unsere Erwartung und die der Mehrheit des afghanischen Volks ist, dass mit diesen Warlords keine beratenden oder andersartige Konsultationen stattfinden sollen. Stattdessen sollen derartige Warlords vor .internationale Gerichtshöfe gestellt werden, damit Gerechtigkeit walten kann
Wir fordern andere patriotische Afghanen auf, sich gegen die Aktivitäten und Pläne dieser afghanenfeindlichen Gruppierungen zu stellen, sowie ihre Stimme durch Demonstrationen, Protestveranstaltungen und die Massenmedien zu erheben


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.